دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ

۱۳ اپریل ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۳۰

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**آته پنځوسمه مسئله**

دو همه برخه

او اوبوذرغفاری رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوچی بریتونه ټیټوی، حق تعالی زرحوری ورسره جفت کوی. اوله ګناهونو څخه راوزی داسی لکه چی دموره پیداشوی وی. اوحق تعالی دهغی عمر ډیروی اوپه روزی کی یی برکت اچوی..

اورسول علیه الصلوة والسلام وویل: هرڅوک چی بریتونه لنډ کړی دخدای عزّوجلّ لپاره، حق تعالی فرمان ورکوی چی زر نیکی یی په دیوان کی ولیکی اوځلورزره بدی یی له دیوانه پاکی کړی. اوځلورزره درجی په بهشت کی دده په نام کړی اوځلورزره شفاوی یی په تن کی اچوی اوځلورزره بیماری اوعلتونه یی له بدن څخه لیری کوی.

اوپه خبرکی دی: چی رسول علیه السلام وویل: نیکی دی وی هغه کس لره چی بریتونه یی لند کړل اودهروینته چی له ده ولویږی، حق تعال به هغه دقیامت په ورځ نوروګرځوی.

اوپه خبرکی دی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی بریتونه لنډ کړی ، حق تعالی ورته دهرویښته په بدل کی دیوه شهید ثواب ورکوی. اودهرویښته په بدل به یو ښارورته په جنت کی ورکړی. اوفرشته به منادی کړی! ای دخدای بنده ! کارله سره پیل کړه چی حق تعالی ستا ټول ګناهونه معاف کړی.

انس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام په یوه ډله پیښ شو اویو سړی یی ولید چی بریتونه لنډوی. رسول علیه السلام وویل: هیڅ مسلمان به نه وی چی بریتونه لنډکړی اوحق تعالی فرمان ورکړی چی دهر ویښته په شمیرچی له ده لویږی، زرنیکی دده په نامه کی ولیکی اوزربدی یی له دفترڅخه پاکی کړی اوزردرجی یی په جنت کی په نامه کړی. اوحق تعالی فرمان ورکوی: چی دهرویښته په شمار سره ورته حج اوعمره په نامه کی ولیکی، اوهرکال یی ګناهونه پاکیږی.

او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی بریتونه لنډ کړی دبهشت له اهل څخه دی، ځکه چی بریتونه پاکیزه ساتل دمسلمانی له ښکلاو څخه دی. پس نیکی دی وی هغه چا لره چی بریتونه پاک ساتی ، چی دقیامت په ورځ به هرویښته ورته په صراط کی نوروی..

او ابوموسی اشعری روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی بریتونه لنډ کړی اوپه هغی باندی تواضع وغواړی اوحق تعالی به هغه له ګناهونو څخه پاک کړی. اوفرمان به ورکړی ترڅو دهر ویښته په شمار چی دده په تن دی دپیغمبر ثواب ورته ولیکی. اوحق تعالی به ده ته برکت ورکړی اوهغی ته به دوه نوره ورکړی: یوپه دنیا کی داسلام نور اوبل په قیامت کی دصراط نورچی برېښنا غوندی به پری تیرشی.اوهرڅوک چی بریتونه لنډوی له قبره به په سپین مخ راپاڅی اودقبرعذاب به تری پورته کړی، اودقیامت له هوله به په امن وی. اودعا به یی مستجابه کیږی اوحاجت به یی رواکیږی. اوبریتونه دخدای لپاره نه لنډوی، مګر پرهیزګاره مومن.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی زما سنت پرځای نکړی اوبریتونه لنډ نکړی، حق تعالی به دهغی پښیمانی اوږده کړی. اوکه په هغه حال کی مړ شی خدای تعالی به وفرمایی، ترڅودده په تن باندی دهرویښته په شمیر مار مقررکړی اوهغه ته به نیش ورکوی. اودهغی غوښه اوپوستکی به خوری اوهډوکی به یی ماتوی اودهرویښته په شمیره چی دده په تن دی زر کبیره ګناوی ولیکل شی.

اودعای یی نه مستجابه کیږی اورحمت نه پری راتوئیږی. اوحق تعالی ورته درحمت په سترګه نه ګوری. اوفرشتی هغه پلید اوملعوی بولی، اودخدای عزّوجلّ په وړاندی دجهودانو اوترسایانو له ډلی دی. اوکه مړشی نو عاصی به ومری. اوچی له ګوره راپاڅی په تندی به یی لیکلی وی چی دابنده دخدای عزّوجلّ له رحمت څخه نا امیده دی. اوفرشتی به پری لعنت وایی اودرسول علیه السلام شفاعت به پری حرام وی. اوهرڅوک چی بریتونه اوږده پریږدی نو قبر به پری تنګ شی اوتیاره. اومنکر اونکیربه پری په خشم وی اوځانکندن به یی هم سخت وی اوهم به دقیامت اهوال پری سخت وی ،مګر چی توبه وکاړی.

اورسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی بریتونه اوږده کړی زما له شفاعت څخه به محروم وی، اوزما دکوثر له حوض څخه به ورته هیڅ نصیب هم نه وی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دزینت لپاره بریتونه اوپیکی لنډ نکړی دقیامت په ورځ به اویازره فرشتی پری مقرری شی چی هغه دوزخ خواته بوزی. اوحشر به یی له مخنثانو سره وی، اوهرڅوک چی توبه وباسی خدای تعالی به دهغی توبه ومنی.

هرڅوک چی بریتونه اوږده پریږدی، داسی به په ګناه ککړ شی چی دهرهغه ویښته په شمیرچی دده پربریتودی داسی به وی لکه چی یو مومن یی وژلی وی اودهرویښته په اندازه دده په نامه کی اویا زناوی لیکی چی له خپلی مورسره یی کړی وی.

اورسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی بریتونه اوږده پریږدی اوپه هماغه حال ومری دقیامت په ورځ به هرویښته لکه نیزه وی ، داسی چی نه به شی کولای دخدای عزّوجله سجده پرځای کړی.

اوعلی ابن ابی طالب کرم الله وجهه وایی: چی بریتونه اوپیکی پریښول دزینت لپاره دلوط له افعالو څخه دی، اوهرڅوک چی داسی وکړی هغه به ملعون وی په دنیا اوآخرت کی مګر که توبه وکړی اوراوګرځی.

او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: یا اباهریره! بریتونه لنډ کړه، ځکه چی که څوک بریتونه لنډ کړی اوچی قران تلاوت کوی نو فرشتی ورته نیږدی راځی، اوکه ویښتان اوږده پریږدی هغی خواته نه ورځی. اویا اباهریره! نوکان هم لنډ کړه! چی شیطان په اوږدو نوکانوکښینی.

اومجاهد روایت کوی چی کله څو ورځی وحیی رانه غله، نورسول علیه السلام یارانو ته ونالیده. رسول علیه السلام وویل: څرنګه به وحی راشی؟ چی تاسو بریتونه نه لنډوی اونوکونه نه اخلی! پس رسول علیه السلام وویل: کله چی خواړه خوری نو غاښونه مو خلال کړی. ځکه فرشتی له هیڅ شی څخه داسی بده نه منی لکه دمومن دغاښونو ترمنځ چی خواړه وی.

او عبدالله ابن عباس رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: څه شی دی چی تاسوزما خواته په ژیړو غاښونه اومسواک ناکره اواوږده نوکونو سره اواوږدو بریتونو سره راځی؟؟